


# اروابناد استاد ګل پاچا الفت

اروابناد استاد ګل پاچا الفت د پښتو ادب په ډګر کې هغه لوی شاعر، ادب پوه، ديني عالم، پیاوړې ليکوال، سیاست پوه، ټولنيز پوه، څېړونکې، تاريخ ليکونکې، او تکړه ژورناليست وو، چې د ده په آثارو کې هنري ښکلا، ادبي اوفرهنګي، اجتماعي، سياسي علمي ، اخلاقي او ملي تفکراو پيغامونه نغښتي دي، چې د اوسنيو او راتلونکونسلونو لپاره د يو لوی ادبي درس او هنري مکتب حيثيت لري . زموږ هيواد وال بايد د خپل ژوند په مختلفو اړخونو کې ترينه خوند او پند واخلي . د دغې نوميالې ليکوال او شاعر يو شمير شعرونه مې انځور کړي دي ستاسو د ادب مينه والو ته يې وړاندې کوم.



## څلوريزه

پتنګ نه دی په ډیوه چې ستي نشي
بلبل نه دی چې په ګل فریادي نشي
زړه یې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی
په لیدو د زخمي زړه چې زخمي نشي

**************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت

ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



## څلوريزه

بتان چې مات کړي بت دځان جوړوي
ځان نه ولي بل نه شیطان جوړوي
مریدان نیسي د الله په نامه
بیا ترینه ځان ته بندګان جوړوي

**************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت

ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# څلوريزه

عقايد که مذهبي که سياسي وي

چې اساس يې محبت بشر دوستي وي

په هر ايزم کې چې وي ترې به ځار يږم

په دې شرط چې تش نوم نه وي حقيقي وي

****************************

شاعر: اروانښاد استاد ګل پاچا الفت

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# څلوريزه

که بې رنګه بې ريا زهد و تقوی وي

له ټګۍ برګۍ چل ول نه مبرا وي

څوک يې کله بازارونو ته راباسي

سود سودا لره خو زهد د ريا وي

**************************

شاعر: اروانښاد استاد ګل پاچا الفت

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# څلوريزه



بزرګي خو نيک عمل، زهد و تقوا ده
هسې نه چې په نژاد نسب بنا ده
اوس چې چا نسب نژاد پورې تړلی
نژادي توپير يې ښه سمه فنا ده

**************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود

# څلوريزه



څوک خپل فکر ته ملګری لټوي
څوک ملګريو ته خپل فکر بدلوي
چې خاوند د عقيدې وي په رښتيا
عقيده له چا نه، نه قربانوي

**************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود



## څلوریزه

د جلال ښایست په ډېر ساز و سامان وي
زیبایي د فقر بل رنګه بل شان وي
سبر ښه ښکاري چې لیس وي پورته شوی
ګل بید ښه وي چې سر ښکته پرېشان وي

***************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



## څلوریزه

له آسمانه څاڅکي راغله د باران
پرې راشنه شوه سپین او سره او زیړ ګلان
یو څو ورځې پس یې باد ویوړلې پاڼې
خپل آغاز انجام هیڅ نه شو ورته عیان

***************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# څلوريزه



يوه ورځې سحر ووې په خندا کې

دا قانون مدام جاري دی په دنيا کې

چې ضعيف د زورور خوا کې ورکيږي

لکه ورکه چې سپوږمۍ شوه د لمر خوا کې

***************************

شاعر: ارواښاد استاد ګل پاچا الفت

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# څلوريزه



په ضعيفه اراده عقل حاکم وي

که قوي وه اراده نو بيا خادم وي

د بشر خدمت ته عقل پيدا شوی

په دې شرط چې روغ و جوړ صحيح سالم وي

***************************

شاعر: ارواښاد استاد ګل پاچا الفت

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود



# څلوريزه

آزادي که خيراتي وي يا دچا مهرباني وي
افتخار به پرې ونه کا که همت يې افغاني وي
قرباني چې پکې نه وي هغه کله لوی اختر وي
آزادۍ سره تړلې ډيره لويه قرباني وي

******************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود



# څلوريزه

نه يې زړه کې صداقت، مينه وفا شته
نه يې سترګو کې څه شرم او حيا شته
سياست لري څو مخه څو اړخونه
وخت په وخت يې خوله کې سل ژبې ګويا شته

******************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت
ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# څلوریزه



که طاعت او عبادت هر څومره کم وي
خدای دې نه کا چې شریک پکې صنم وي
په ریا چې د مخلوق د پاره کېږي
که شرک نه وي له ګناه سره به سم وي

*************************

شاعر: اروانباد استاد ګل پاچا الفت
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# څلوریزه



حب او بغض دوه قوتونه دي انسان کې
که یو نه وي نو بل هم نه وي جهان کې
هر یو نه په خپل ځای اخله کار
پام کوه چې یو هم مړ نه کړې په ځان کې

*************************

شاعر: اروانباد استاد ګل پاچا الفت
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## څلوریزه



يو شان نه دي نصيبونه قسمتونه

کاتبانو د ازل کړي فرقونه

چا بانکونه دي ډک کړي په ډالرو

چا په خپلو خدمتونو تاريخونه

************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت

ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود

## څلوریزه



په منطق او استدلال حق باطليږي

يا باطل د حق په ځای باندې دريږي

فلسفه عقل او پوهه هغه وايي

چې انسان يې په ويلو خوشحاليږي

************************

شاعر: اروابناد ګل پا چا الفت

ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود

# څلوریزه




په جهان کې چې مردوده باداري شوه
روحاني رنګ یې راووته پیري شوه
د پیرۍ او مریدۍ بازار چې سوړ شو
سیاسي رنګ یې پیدا کړ لیډري شوه

************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت
ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود

# څلوریزه



په رڼا کې د لمر ځومره لوی حکمت دی
ژوند د پاره ډیر ضرور دا حرارت دی
مګر ګوره د آسمان سپینې سپوږمۍ کې
خاوند ایښی د جمال شعري کیفیت دی

************************

شاعر: اروابناد استاد ګل پاچا الفت
ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود



## څلوریزه

ځینې وایي صبر غم کې نه ژړل دي
د اولاد په مړینه ږیره نه شکول دي
که صحیح معنا یې غواړې زما جانه
په سختیو کې د خپل ځان نه بایلل دي

***************************

شاعر: اروانباد استاد ګل پاچا الفت

ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



## څلوریزه

رښتیانی دوست نه لري هغه سړی
چې په خوله باندې وي خپل په زړه پردی
محبت د لاس او ژبې اثر نه کا
که په مینه نه وي تود د زړه نغری

*************************

شاعر: اروانباد استاد ګل پاچا الفت

ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



## څلوریزه

له آسمانه څاڅکي راغله د باران
پرې راشنه شوه سپین او سره او زیړ ګلان
یو څو ورځې پس یې باد ویوړلې پاڼې
خپل آغاز انجام هیڅ نه شو ورته عیان

**************************

شاعر: اروانباد استاد ګل پاچا الفت
ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود



## څلوریزه

په دنیا کې که عزت که اعتبار دی
د انسان د معایبو پرده دار دی
که څوک خپل عیب پټوي په دې پټیږي
ورکول یې د صحیح تربیت کار دی

*************************

شاعر: اروانباد استاد ګل پاچا الفت
ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود